مجيب الرحمن « خطيبي »

د نشر نيټه : 2 جنورى 2018 م

عمل

هيڅ عمل نكړى په ګفتار يى بشر
زړه مې چاودى كله وينم دا منظر
نه يې آورم نن كلام يې په وينا كې
چې به تل جيګ وو كلام يې له ممبر
زاهدان نن د كفار له وينا مست دي
جوړ له ځانه كړې زاهد خيروالبشر
په ريا به دوي حبيب د نبي نشي
دى مقام د نبي جيګ له سيم او زر
په ثنا او په تسبيح مې روح آرام شي
كله غشى د حديث خورم په تټر
چې مينه د رسول يې په زړه نه وي
تل به ګرځى دربدر خاورى په سر
اى سروره اى حبيب د لايزاله
مجيب سردى قربان وي ستا له در

***

مجيب الرحمن « خطيبي »

www.said-afghani.org - بازګشت به صفحه اصلى